**د افغانستان اسلامي امارت**

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۲۳/ صفر المظفر /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۱۷ /سنبله /۱۴۰۲هـ، ش**

# د استسقاء (باران غوښتلو) ضرورت، حکم او طریقه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله وأمينه على وحيه، وحجته على عباده، وخِيرته من خلقه، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيرا.

قال الله سبحانه وتعالى: { فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً . يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً . وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً . مَا لَكُمْ لا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَاراً } نوح: (۱۰-۱۳)

**د استسقاء تعریف:**

استسقاء په لغت کې د اوبو طلب ته وایي.

او په اصطلاح کې طلب دباران د وریدلو دی په مخصو ص کیفیت سره په وخت د ضرورت کې ، هغه داسې چې د باران ورښت بندشي او خلک خوړونه او څاګانې نلري چې اوبه ورڅخه وڅښي او خپلو څارویو ته او فصلونو ته یې ورکړي او یا داچې څاګانې او خوړونه موجود وي خو اوبه یې کفایت او بسنه نه کوي.حاشیة ابن عابدین (۲/ ۱۸)

**د استسقاء (باران غوښتلو) ضرورت:**

اوبه د الله تعالی ستر نعمت دی او د ټولو ژوندیو مخلوقاتو ژوند په اوبو پورې تړلی دی لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:

{وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاء كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلا يُؤْمِنُونَ}الأنبياء: (۳۰)

ترجمه:- او مونږ ګرځولي دي هر شی په اوبو باندې ژوندی آیا دوی ایمان نه راوړي؟

په ځمکه کې اوبه له آسمانه نازلیږي او د ځمکې په سطحه کې ذخیره کیږي او بیا ور څخه ټول ژوندی مخلوقات لکه حیوانات او څاروي، مرغان، نبات او شنې ګیاوې، حشرات ، ژوي او انسانان ګټه اخلي.

باران چې د الله تعالی رحمت دی هر وخت ورته ضرورت دی، ځکه د هر ژوندي ساکښ ژوند په اوبو پورې تړلی دی .

د ځمکې په سر د اوبو سرچینه باران او واورې دي که باران نه وي نو ښکاره خبره ده چې په ځمکه کې به اوبه کمې وي او باران ته هغه وخت ضرورت زیات شي چې کله باران بند شي او انسانان، حیوانات ، مرغان، نباتات او ژوندي ژوي د قحطۍ

او د اوبو له کمښت سره مخ شي. الله تعال د اوبو نعمت ذکر په قرآن کریم په داسې شان کړی دی:{وَهُوَ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاء مَاء طَهُورًا . لِنُحْيِيَ بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا وَنُسْقِيَهُ مِمَّا خَلَقْنَا أَنْعَامًا وَأَنَاسِيَّ كَثِيراً}الفرقان: (۴۸-۴۹)

ترجمه:- او همدی هغه ذات دی چې هواګانې يې له رحمت نه مخکې زیری ورکوونکې لیږلي دي او مونږ له بره نه پاکوونکې اوبه نازلې کړې دي ددې لپاره چې مونږ په دغو (اوبو) سره مړ ښار را ژوندی کړو او چې دا په څارویو اوډېر زیاتو انسانانو وڅښوو.

د اوبو د نعمت په باره کې الله تعالی فرمایي چې د بارانونو وروونکی ذات زه یم او که چیرې زه له تاسې اوبه په ځمکه ښکته بوزم ، نو آیا بل څوک شته چې خوږې اوبه درته درکړي؟

{قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْراً فَمَنْ يَأْتِيكُمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ} الملک: (۳۰)

ترجمه:- ته (دوی ته) ووایه چې تاسو ماته خبر راکړئ که چیرې ستاسو اوبه (په ځمکه کې) ډېرې ښکته لاړې شي نوڅوک دی چې تاسو ته به روانې اوبه راولي.

په ځینو وختونو کې د امتحان او ازمیښت په توګه او یا په ځمکه کې د انسانانو د سرکشۍ او فساد له امله، الله تعالی خپل رحمت باران بند کړي چې له امله یي ځمکه د قحط او وچکالی سره مخ کیږي، ځمکه وچه شي، دښتې وچې شي، غرونو کې د اوبو زیرمې کمې شي، سیندونو او خوړونو کې اوبه کمې شي، د څاګانو اوبه ښکته لاړې شي او یا د څاګانو اوبه وچې شي او په دې توګه انسانان، اهلي او غیر اهلي حیوانات ، مرغان او ژوندي ژووي له قحطی سره مخ شي او دالله تعالی له نعمت څخه محروم شي .لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ} الأنبياء: (۳۵)

ترجمه:- او مونږ تاسو په شر او خیر سره ازمایو ، ازمایل، او تاسو به خاص مونږ ته راوستلی شی.

د آسمان څخه د باران د بندیدو په اړه الله تعالی فرمایلي دي: {وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاء مَاء بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّا عَلَى ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ} المؤمنون: (۱۸)

ترجمه:- او مونږ له بره نه په اندازې سره اوبه نازلې کړې دي بیا مو هغه په ځمکه کې وساتلی او بیشکه مونږ د هغې په بیولو یقیناً قادر یو.

که مونږ اوسني حالت ته ځیر شو ، وینو چې د هیواد په اکثرو ولایتونو کې بارانونه، نه کیږي او د هیواد په اکثرو ولایتونو کې د اوبو څاګانې وچې شوي دي ، په غرونو کې چینې یا وچې شوي دي او که وچې نه دي اوبه په کې کمې دي، دا هغه حالت دی چې باید مونږ په کې خپل خالق ته رجوع وکړو او د الله جل جلاله څخه د خپلو خطاګانو او ګناهونو معافي وغواړو ، خپل رب ته له ګناهونو توبه وباسو، په خپلو ګناهونو اعتراف وکړو او د هغه ذات څخه د باران غوښتنه وکړو چې له آسمانونو څخه بارانونه وره وي .

ترڅو الله تعالی پر مونږ رحم وکړي او په ټول هیواد کې بارانونه ووریږي، دښتې شنې شي، د ځمکې د سطحې اوبه پوره شي ، څاګانې بیرته ژوندۍ شي او په چینو کې او ویالو کې اوبه زیاتې شي ، فصلونه خړوب شي او دسیندونو او ویالو اوبه بیرته زیاتي شي.

دا کار زیات اړین او ضروري دی ځکه چې ښیرازي او آبادي ور پورې تړلی ده .د خپلو ګناهونو ښښنه غوښتل او د الله تعالی څخه د باران غوښتل، هغه څه دي چې هود علیه السلام ور باندې خپل قوم ته امر کړی دی، هغه خپل قوم ته و فرمایل:
{وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ وَلا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ} هود: (۵۲)

ترجمه:- او ای زما قومه! د خپل رب نه مغفرت وغواړئ بیا هغه ته رجوع وکړئ هغه به پر تاسې باندې باران راخوشی کړي چې په شیبو شیبو به وریدونکی وي او ستاسې قوت ته به (نور) قوت ور زيات کړي او تاسو (له ایمان او توبې نه) مخ مه ګرځوئ په داسې حال کې چې تاسو مجرمان یی.

په روایاتو کې راځي چې الله تعالی د هود علیه السلام د قوم څخه دری کاله باران بند کړی ؤ ، نو هود علیه السلام چې دا ضرورت احساس کړ ، خپل قوم ته یي وویل چې دالله تعالی څخه دخپلو ګناهونو ښښنه وغواړئ او له جرمونو څخه توبه وباسئ.[تفسیر قرطبي]

همدا رنګه نوح علیه السلام خپل قوم ته وفرمایل که چیرې تاسې الله تعالی ته توبه وباسئ او له هغه د خپلو ګناهونو ښښنه وغواړئ ، الله تعالی به در باندې رحم وکړي او دآسمان څخه به درباندې باران و وروي: { فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً . يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً . وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً . مَا لَكُمْ لا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَاراً } نوح: (۱۰-۱۳)

ترجمه:- نو ما (دوی ته) وویل: تاسو د خپل ربه نه ښښنه وغواړئ ،بیشه دی ډیر ښښونکی دی، دی به په تاسو ښه وریدونکی باران راخوشی کړي او تاسو ته به مالونه او زامن در زيات کړي او تاسو ته به باغونه پیداکړي او تاسو ته به ویالې پیدا کړي په تاسو څه شوي دي چې د الله لپاره د لویی عقیده نه ساتئ.

په روایاتو کې راځي چې هرکله د نوح علیه السلام قوم د هغه خبره ونه منله ، الله تعالی ورڅخه باران بند کړ او زنانه یي ورلره شندې کړلې څلوېښت کاله ، نو د هغوی څاروي هلاک شول، او فصلونه یي تباه شول، هغوی نوح علیه السلام ته راغلل او له هغه څخه یي مرسته وغوښتله، نو نوح علیه السلام ورته وفرمایل چې د ګناهونو څخه توبه وباسئ ترڅو الله تعالی در باندې رحم وکړي او د آسمان څخه درباندې باران را خوشی کړي. الجامع لأحكام القرآن (۱۸/ ۳۰۲)

په دې مبارکو آیتونو کې زموږ لپاره دا درس دی؛ چې موږ هم باید د باران د بندیدو پر وخت هغه کړنه ترسره کړو کومه کړنه چې هود علیه السلام او نوح علیه السلام خپلو قومونو ته ښودلې وه او د باران غوښتنه وکړو.

په یو روایت کې راځي:( شكا رجل إلى الحسن الجدوبة فقال له : استغفر الله. وشكا آخر إليه الفقر فقال له : استغفر الله. وقال له آخر. ادع الله أن يرزقني ولدا ؛ فقال له : استغفر الله. وشكا إليه آخر جفاف بستانه ؛ فقال له : استغفر الله. فقلنا له في ذلك ؟ فقال : ما قلت من عندي شيئا ؛ إن الله تعالى يقول في سورة "نوح" : {اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً. يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً...). الجامع لأحكام القرآن (۱۸/ ۳۰۲)

ترجمه:- یو شخص حسن بصری رحمه الله ته د وچکالۍ څخه شکایت وکړ ، هغه ورته وویل استغفار ووایه . بل شخص ورته د فقر څخه شکایت وکړ، هغه ورته وویل : استغفار ووایه. بل ورته وویل دالله تعالی څخه زما لپاره د زوی سوال وکړه! هغه ورته وویل: استغفار ووایه. بل شخص ورته د باغ د وچیدو څخه شکایت وکړ، هغه ورته وویل چې استغفار ووایه. موږ ورته وویل چې ټولو ته دې وویل چې استغفار ووایه؟ یا داچې موږ ورته وویل چې ته دا خبره له کومه کوئ؟ حسن بصری رحمه الله وویل : چې دا ما دځان څخه نه دي ویلي ، الله تعالی په سورت نوح کې فرمایي (اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً. يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً .وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً}

په دې شک نشته چې د الله تعالی عذابونه چې راځي اکثره دګناهونو په وجه راځي ، که چیرې د نوح علیه السلام او هود علیه السلام په قوم باندې باران بند شوی ؤ ، هغه هم د ګناهونو په وجه ؤ او که چیرې په نور چا باندې د آسمان دروازې بندیږي ،

هغه هم د ګناهونو په وجه بنديږي. الله تعالى فرمايلي دي: {ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} الروم:(٤١)

ترجمه:- په وچه او لونده (بر او بحر ) کې فساد خپور شو په سبب د هغو (عملونو) چې د خلکو لاسونو کړي دي، ددې لپاره چې هغه (الله) په دوی ځينې برخه (د سزا) د هغو عملونو وڅکوي چې دوی کړي دي، ددې لپاره چې دوی را واپس شي.

په يو بل مبارک آيت کې راځي: { وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ} الشورى: (٣٠)

ترجمه:- او تاسو ته چې څه مصيبت هم رسي نو په سبب د هغو کارونو چې ستاسو لاسونو کړي دي او ډير (ګناهونه) معاف کوي.

کفري طاقتونه لګيا دې او د انسان وژونکې سلاح ګانې جوړوي او ګلخانه يي ګازونه توليدوي او په دې کار کې نه ستړی کيدونکی هلې ځلې کوي او يو له بل څخه مخکې کيږي، نو دځمکې د تودوخې ګراف مخ په ګرميدو دی ، دا هغه ځای دی چې الله تعالى فرمايي چې څه درته رسيږي د عذاب نه، هغه ستاسو د اعمالو نتيجه ده، البته کله چې د الله تعالى عذاب راشي بيا په صالح او طالح دواړو باندې يو شان راځي.

بناءً مونږ مسلمانان چې په خپل رب عقيده لرو ، بايد چې د سختيو او مشکلاتو پر وخت خپل خالق او مدبر ذات ته رجوع وکړو او توبه وباسو ،ځکه چې الله تعالى مونږ ته د توبې په ويستلو باندې امر کړی دی.{ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} النور: (٣١)

ترجمه:- او تاسو ټول الله ته توبه وباسئ ای مؤمنانو! ددې لپاره چې تاسو کامياب شی.

په يو قدسي حديث شريف کې راځي: (يا عبادي ، إنكم تُخطئون بالليل والنهار ، وأنا أَغْفِر الذُّنوبَ جميعا ، فاستغفروني أغفِرْ لكم).صحيح مسلم

ترجمه:- ای زما بندګانو! تاسې خطاکوئ په شپه کې او ورځ کې او زه ټول ګناهونه بښم، پس زما څخه د ګناهونو ښښل وغواړئ ، زه به درته ښښنه وکړم.

که مونږ په رښتيا سره توبه وباسو او ګناهونه کول پرېږدو، زمونږ دا عقيده ده چې دآسمانونو خالق به پر مونږ رحم کوي او بارانونه به راباندې وره وي، لکه چې الله تعالى فرمايلي دي: {وَهُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ رَحْمَتَهُ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ} الشورى:(٢٨)

ترجمه:- او دی همغه ذات دی چې باران وروي وروسته له دې چې دوی نا اميده شي او هغه خپل رحمت خپروي او همدی ښه کار ساز ښه ستايل شوی دی.

## د بارانونو د بنديدو او وروسته کيدو اسباب:

د بارانونو د بنديدو او وروسته کيدو ځينې اسباب په لاندې توګه دي:

**١-** په ځمکه کې تکبر او لوی کول، په مخلوق لويی کول، په مال ، اولاد او منصب باندې افتخار کول، او باران په هغه ځا نازليږي چې متواضع او عاجزي کوونکی وي.

همدا وجه ده چې کله به پيغمبر عليه السلام باران غوښتلو نو عاجزي او تضرع به يي اختيار کړه.

قال ابن عباس رضي الله عنه:(خَرَجَ رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم للاستسقَاء مُتَذَلِلاً، مُتَواضِعاً، مُتَخَشِعاً، مُتَضَرِعاً).سنن الترمذي

ترجمه:- عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي : نبي عليه السلام استسقاء(باران غوښتلو ) لپاره په داسې حالت کې ووتلو چې دعاجزي حالت يي اختيار کړی ؤ، د خشوع او تضرع حالت يي اختيار کړی ؤ.

۲- د خلکو په منځ کې د فساد خپرول، دا فساد چې په هر شکل کې وي، لکه تزوير، رشوت، غلا او خيانت.چې د خيانت يو شکل په پيمانه او وزن کې کمی کول دي.

۳- د زکات نه ورکول؛ د زکات مال نه ورکول د باران د بنديدو او دباران د تاخير سبب ګرځي .په حديث شريف کې راځې :(ولم يمنعوا زكاة أموالهم إلا منعوا القطر من السماء، ولولا البهائم لم يمطروا). سنن ابن ماجه

ترجمه:- او نه به منع کوي دوی زکات د مالونو خپلو، مګر داچې منع به شي ور څخه باران د آسمان، که چيرې څاروي نه وای، هيڅکله به ور باندې باران نه ؤ شوی.

۴- د ګناهونو او معاصيو ډير والی، د ګناهونو ډير والی د باران دبنديدو، وچکالی او قحط سبب ګرځي.ځکه ګناهونه د الله تعالی د قهر او غضب سبب ګرځي چې بيا الله تعالی خپل رحمت بندوي، چې د انسانانو د ګناهونو له امله ټول حيوانات د الله تعالی د رحمت څخه محرومه کيږي.

عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمايي: (ويل کيدل به چې د خاصو خلکو د ګناه له امله عام خلک نه په عذاب کيږي، مګر کله چې منکَر سر عام شي، نو بيا ټول د عذاب مستحق ګرځي). الموطأ - (۲/ ۹۹۱)

بلکې د خلکو د ګناهونو په وجه حيوانات او حشرات هم په تکليف کې پريوزي.

په يو روايت کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه أنه سمع رجلا يقول: (إن الظالم لا يضر إلا نفسه). فقال أبو هريرة:( بلى والله، حتى الحُبارَى لَتموتُ في وكرها هزالا من ظلم الظالم). شعب الإيمان - البيهقي (٦/ ٥٤)

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه له يو سړي څخه واوريدل چې ويل يي:(ظالم بل چاته ضرر نه شي رسولی، مګر خپل ځان ته). ابوهريره رضي الله عنه ورته وويل: بلی ! قسم په الله چې (د ظالم د ظلم ضرر ) رسيږي حتی حُبارَی مرغۍ ته چې هغه مړه کيږي په ژاله خپله کې د کمزورۍ له وجی نه په سبب د ظلم د ظالم.

يعنی مرغانو ته هم د ظالم دظلم زيان رسيږي او کله چې د ظالم دظلم په وجه وچکالي او قحطي راشي نو مرغان په خپلو ژالو کې مړه کيږي.

## د استسقاء (باران غوښتلو) حکم:

استسقاء (د باران غوښتل) د الله تعالی په ثنا او صفت ويلو سره او هغه ته فريادکولو او استغفار ويلو سره، په کتاب الله ، په سنتو او د امت په اجماع سره ثابت ده.

۱-**کتاب الله :-** دالله په کتاب کې د استسقاء (باران غوښتل) دنوح عليه السلام په هغه دعاء سره ثابت دي چې هغه خپل قوم ته وويل: { فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كان غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا } نوح: ( ۱۰ )

**۲- د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت :-** د استسقاء (باران غوښتلو) په اړه زيات احاديث راغلي دي چې څو ځله په مکرر ډول نبي عليه السلام استسقاء کړی ده او د الله تعالى څخه يي د باران وريدل غوښتلي دي.

**۳- اجماع :-** همدارنګه د نبي عليه السلام څخه وروسته خلفای راشدينو استسقاء (باران غوښتل) کړی ده او اسلامي امت په استسقاء باندې سلفاً او خلفاً اجماع کړی ده .[ البحر الرائق البحر الرائق( ۲/ ۱۸۱)

په حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَصَابَتِ النَّاسَ سَنَةٌ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ-صلى الله عليه وسلم- فَبَيْنَا النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم يَخْطُبُ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هَلَكَ الْمَالُ وَجَاعَ الْعِيَالُ فَادْعُ اللهَ لَنَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَمَا نَرَى فِي السَّمَاءِ

قَزَعَةً فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا وَضَعَهُمَا حَتَّى ثَارَ السَّحَابُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ ثُمَّ لَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِنْبَرِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلَى لِحْيَتِهِ -صلى الله عليه وسلم فَمُطِرْنَا يَوْمَنَا ذَلِكَ وَمِنَ الْغَدِ وَبَعْدَ الْغَدِ وَالَّذِي يَلِيهِ حَتَّى الْجُمُعَةِ الأُخْرَى وَقَامَ ذَلِكَ الأَعْرَابِيُّ أَوْ قَالَ غَيْرُهُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ تَهَدَّمَ الْبِنَاءُ وَغَرِقَ الْمَالُ فَادْعُ اللهَ لَنَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا).صحيح البخاري-نسخة طوق النجاة (ص: ۲۳)

ترجمه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې خلکو ته قحطي ورسيده د نبي عليه السلام په زمانه کې ، يوځل نبي عليه السلام د جمعې په ورځ خطبه ويله يو بانډه چي پاڅيده او وه يې ويل: ای د الله رسوله! مال هلاک شو او وږي شول اولادونه، زمونږ لپاره دعاء وکړه، نبي عليه السلام دواړه مبارک لاسونه پورته کړل او مونږ نه ليده په آسمان کې وريځ .زما دې قسم وي په هغه ذات چې زما نفس د هغه په واک کې دی، هغه لاسونه نه ؤ ايښې چې را خوره شوه وريځ په شان د غرونو ، نبي عليه السلام لا نه ؤ راښکته شوی له منبر څخه چې ما وليده باران چې راښويده د هغه په ږيره مبارکه باندې . مونږ باندې په دغه ورځ باران وشو او په صبا ورځ هم باران وشو او په دريمه ورځ هم باران وشو تر بلې جمعې پورې او پاڅيده همغه بانډه چې او راوي وايي او يا بل څوک پاڅيده او وه يي ويل: ای دالله رسوله ! آبادي ونړيده او مال غرق شو ، دعاء وغواړه زمونږ لپاره (د بنديدو دباران) بيا نبي عليه السلام دواړه مبارک لاسونه پورته کړل او داسې يي وويل: ای الله ! باران زمونږ په شاوو خوا ووروئ او پر مونږ يي مه وروه.

امام ابن عابدين وايي چې د استسقاء لمونځ مستحب او مندوب دی.

(قلت: والظاهر أن المراد به الندب والاستحباب).حاشية ابن عابدين (۲/ ۱۸٤)

په ظاهر الروايه کې دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په استسقاء( باران غوښتلو) کې په جماعت سره مسنون لمونځ نشته ، خو که چيرې خلک ځانته ځانته لمونځ وکړي، باک نلري ، بلکې استسقاء يواځې د باران د غوښتلو دعاء ده، لکه چې الله تعالى فرمايي: {فقلت: استغفروا ربکم إنه کان غفاراً، يرسل السماء عليکم مدراراً} او نبي عليه السلام چې کله استسقاء کړی ده ، له هغه څخه لمونځ نه دی روايت شوی؛ بلکې هغه يواځې دعاء کړی ده. او د امام ابوحنيفه رح په نزد په استسقاء کې چې لمونځ په جماعت نشته داسې خطبه ويل هم په کې نشته او د څادر اړول هم په کې نشته ، ځکه د استسقاء سبب يواځې دعاء ده . الهداية شرح البداية (۱/ ۸۸)

امام اعظم ابوحنيفه رح وايي چې په کوم وخت کې رسول الله صلى الله عليه وسلم استسقاء کوله ، هغه يواځې دعاء کړی ده او لمونځ يې نه دی کړی او په کوم روايت کې چې د لمونځ ذکر دی، هغه شاذ روايت دی. حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح (ص: ۳۵۹)

خو دامام محمد او امام ابویوسف رحمهما الله په نزد په استسقاء کې دوه رکعته لمونځ د نبي علیه السلام څخه ثابت دی او ابن عباس رضي الله عنه د پیغمبر علیه السلام څخه نقل کړی دی، او په کارده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو اتباع وشي او لکه د اختر د لمانځه په شان دوه رکعته لمونځ په کې مستحب دی.

امام ابویوسف رحمة الله علیه په باره کې دوه ډوله روایتونه نقل دي په یو روایت کې امام ابویوسف د امام ابوحنیفه رح سره دی او په بل روایت کې دامام محمد رح سره دی.

خو امام طحاوي وايي دا چې امام ابویوسف له امام محمد رح سره دی دا خبره صحیح تره ده.

(وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ قَوْلَهُ مع قَوْلِ مُحَمَّدٍ وهو الْأَصَحُّ) بدائع الصنائع (۱/ ۲۸۲)

امام محمد رح داستسقاء لمونځ اداء کول لکه د اختر لمانځه په شان بولي چې په جهر به په کې قراءت کیږي او د لمانځه څخه وروسته به خطبه ویل کیږي.

امام مرغیناني رحمه الله د امام ابوحنیفه رح د قول ذکر کولو څخه وروسته وايي: (قلن فعله مرة وتركه أخرى فلم يكن سنة).

الهداية شرح البداية (۱/ ۸۸)

ترجمه:- مونږ وایو چې نبي علیه السلام ځیني وخت لمونځ کړی دی او ځیني وخت یې نه دی کړی ، نو سنت نه شو.

امام ابن عابدین وايي چې د امام اعظم ابوحنیفه او امام محمد او ابویوسف ترمنځ اختلاف د جماعت په سنت والي کې دی؛ نه په مشروعیت کې؛ ځکه چې په جماعت سره د استسقاء لمونځ کولو په مشروعیت باندې امام ابوحنیفه رح هم قائل دی، البته د الدر المختار مصنف موقف لکه د امام نسفي په شان دی دوی وايي چې اختلاف دجماعت په مشروعیت او عدم مشروعیت کې دی.

( وَهَذَا مُوَافِقٌ لِمَا ذَكَرَهُ شَيْخُ الْإِسْلَامِ مِنْ أَنَّ الْخِلَافَ فِي السُّنِّيَّةِ لَا فِي أَصْلِ الْمَشْرُوعِيَّةِ).رد المحتار (٦/ ١٩٤)

په فتاوی حقانیه کې راځي چې په دې مسئله کې د صاحبینو قول مفتی به دی.فتاوی حقانیه ج۲، ص: (۵۴)

## د استسقاء (باران غوښتلو) طریقه :

د آحادیثو څخه د استسقاء(د باران غوښتلو) درې صورتونه معلومیږي:

۱- د لمانځه نه علاوه یواځې استغفار ویل او دعاء غوښتل.

۲- د جمعې د خطبې په دوران کې د باران لپاره دعاء غوښتل، لکه په پورتني د انس بن مالک رضي الله عنه په حدیث کې چې راځي.

۳- د باران د غوښتلو لپاره مستقل دوه رکعته لمونځ کول.

البته بهتر په استسقاء کې ښه صورت هم دغه دی چې ټول خلق یو پراخه میدان ته ووځي او په ډیره عاجزۍ او تضرع سره دوه رکعته لمونځ وکړي په جهر سره یې وکړي، بیا امام په ولاړه په ځمکه باندې خطبه ووايي او وروسته مخ په قبله شي او دعاء وغواړي .

امام زيلعي وايي: (وَيَسْتَقْبِلُ بِالدُّعَاءِ الْقِبْلَةَ قَائِمًا وَالنَّاسُ قَاعِدُونَ مُسْتَقْبِلُونَ الْقِبْلَةَ). تبيين الحقائق (١/ ٢٣١)

ترجمه:- امام به د دعاء پروخت مخ قبلې ته واړوي او په ولاړه به دعاء وغواړي په داسې حال کې چې خلک به مخ په قبله ناست وي.

دامام محمد رح په نزد په خطبه کې به لکه د جمعې د ورځې په شان کيني او د امام ابو يوسف څخه په دې اړه دوه ډوله روايتونه نقل دي په يو روايت کې راځي چې په خطبه کې به نه کيني او په بل روايت کې راځي چې که چيرې امام يوه خطبه ووايي په ولاړه دا به ښه وي.

په تحفة الفقهاء کې راځي:(وهل يجلس في خطبة الاستسقاء عن أبي يوسف روايتان في رواية لا يجلس وفي رواية أخرى إن خطب خطبة واحدة قائما فحسن).تحفة الفقهاء (١/ ١٨٥)

دامام محمد او امام ابويوسف رح په نزد به لمونځ لکه د جمعې د ورځې په شان په جهر سره وکړي او افضله داده چې په لومړې رکعت کې به { سبح اسم ربك الأعلى } ووايي او په دوهم رکعت کې به { هل أتاك حديث الغاشية } ووايي.تحفة الفقهاء (١/ ١٨٥)

خلک به دامام خطبې ته غوږ نيسي. منبر به نه اوباسي او که چيرې منبر يي وويستلو هم جواز لري، خو مسنون داده چې امام به خطبه په ولاړه په ځمکه باندې وايي.

ابن نجيم رح وايي: (وَلَا يُخْرَجُ في الِاسْتِسْقَاءِ مِنْبَرٌ بَلْ يَقُومُ الْإِمَامُ وَالْقَوْمُ قُعُودٌ فَإِنْ أخرجو الْمِنْبَرَ جَازَ). البحر الرائق (٢/ ١٨٢)

کله چې امام خطبه وويله بيا به د نيک فأل په توګه ځادر واړوي هغه داسې چې قحطي دې الله په ښيرازۍ بدله کړي او سختي دې الله په آسانۍ بدله کړي. د ځادر اړولو طريقه په فتاوی عالمګيري کې داسې ذکر شوی ده:(وَصِفَةُ تَقْلِيبِ الرِّدَاءِ إنْ كان مُرَبَّعًا جَعَلَ أَسْفَلَهُ أَعْلَاهُ وَأَعْلَاهُ أَسْفَلَهُ وَإِنْ كان مُدَوَّرًا جَعَلَ الْجَانِبَ الْأَيْمَنَ على الْأَيْسَرِ وَالْأَيْسَرَ على الْأَيْمَنِ). الفتاوى الهندية (١/ ١٥٤)

که چيرې ځادر ځلور کونجه ؤ ، نو لاندې طرف دې پورته واړوي او پورته طرفونه دې لاندې کړي او که چيرې ځادر ګرد ؤ ، نو ښي طرف دې په چپ واړوي او چپ طرف دې په ښي طرف واړوي.

کله چې د ځادر د اړولو څخه امام فارغ شو؛ نو امام او خلک به لاسونه آسمان ته پورته کړي او د الله تعالی حمد او ثناء به ووايي ، استغفار به ووايي او دالله تعالی څخه به په ډيره عاجزۍ او تضرع سره طلب د باران وکړي او کوښښ دې وکړي چې صدقات او خيراتونه ورکړي؛ ترڅو الله تعالی د خپلې مهربانۍ له مخې باران نازل کړي .

نبي عليه السلام په بل ځای کې دومره زيات لاسونه ، نه دې پورته کړي لکه په استسقاء کې چې يي پورته کړي دي.

په فتاوی حقانيه کې راځي چې د استسقاء په لمانځه کې د لاسونو سرچپه نيولو سره دعاء غوښتل د جناب نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه ثابت دي، ددې لپاره د امت فقهاوو داستسقاء د لمانځه په دوران کې ددعاء په وخت کې سرچپه لاس نيول سنت ګرځولي دي.

که چيرې باران ونه شو ، نو مستحب ده چې درې ورځې به د استسقاء لمونځ وکړي او د الله جل جلاله څخه دې نه نااميده کيږي. تحفة الفقهاء (١/ ١٨٦)

**په اللباب في شرح الكتاب کې راځي (ص: ٥٩):( ويستحب الخروج له إلى الصحراء؛ إلا في مكة وبيت المقدس فيخرجون إلى المسجد ثلاثة أيام مشاة في ثياب خلقة غسيلة متذللين متواضعين خاشعين للّه تعالى ناكسين رءوسهم مقدمين الصدقة كل يوم قبل خروجهم، ويحددون التوبة، ويستسقون بالضعفة والشيوخ والعجائز والأطفال). اللباب في شرح الكتاب (ص: ٥٩)**

**ترجمه:- مستحب ده چې په استسقاء کې دې صحراء ته ووځي علاوه د مکې مکرمې څخه او بيت المقدس څخه. مسجد ته به درى ورځې پيادل وځي په زړو جامو کې چې وينځل شوي وي، په داسې حال کې چې عاجزي کوونکي به وی ، تواضع کوونکي به وي او الله ته به خشوع کوونکي وي، سرونه به ښکته اچوي او هره ورځ به صدقه وړاندې کوي  د وتلو څخه مخکې ، توبه به زياته وباسي او استسقاء به کوي په ضعيفانو، بوډاګانو او ماشومانو باندې.**